# القدر

**مکی سورة دی ۵ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ١

**مونږ نازل کړی قرآن کریم( د قدر او منزلت په یوه عظیمه شپه) لیلة القدر( له لوح محفوظ نه د دنیا آسمان ته. او وروسته، د درویشتو کالو په اوږدو کې وخت په وخت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د وحې په ذریعه راغلی دی).**

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢

**او ته څه خبر یې چې د قدر شپه څه ده؟ (تا لا تر اوسه د قدر د شپې فضیلت او ارزښت نه دی پیژندلی).**

لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣

**د قدر شپه له زرو میاشتو بهتره ده( او د یوه مبارک حدیث په استناد، د دې شپې د عبادت په ترځ کې باید داسې دعا وشی: اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عنی ).**

تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ٤

**په دې شپه پرښتې او روح( جبرئیل) د خپل رب په حکم د ټولو چارو( د تدبیر او تنظیم او خیر او برکت لپاره ځمکې ته) نازلیږی.**

سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ٥

**دغه شپه د سهار تر سپیده داغه پوری د سلامتی او رحمت شپه ده.**

**« تمت سورة القدر بفضل الله و رحمته»**

**====================**